# د افغانستان د آینده غورځنګ د خواخوږی پیغام

فبروری نهمه ۲۰۱۰

نومیالي شاعر او سیاستوال اجمل خټک له خپل اند و ژوند سره مخه ښه وکړه

هغه د هند د نیمې وچې او پښتونخواد ستر ازادیپال او سمونوال پاچاخان(عبد الغفار خان) د سیاسي- فرهنګي خدايي خدمتګار غورځنګ تر سیوري لاندې له ادب اوسیاست سره غاړه غړی را لوی شو او تر پایه یې همدغه لاره روده پسې واخیسته. جېلونه او تبعیدونه یې وګالل.

څه له پاسه شل کاله یې په افغانستان کې تېر کړل چې په ترځ کې یې له هماغه غورځنګه د را زېږېدلي((ملي عوامي ملي پارټی)) استازي هم پر غاړه درلوده او له بیرته ستنېدو سره یې په ګوندي چاروکې په کارنده برخه اخیستنه، د عمومي منشي تر پوړی ورسېد. په وروستیو کلونو کې چې د ګوند له خوایې سنا(سېنټ) ته لار وموندله، دسراسري پاکستان سیاسي ډګر ته هم ورګډ شو او لا ښه ترا وځلېد.

په اردو او انګرېزي ادب کې یې تر ماسټر ډیګری زده کړې ترسره کړې او په پارسي ادب کې ورته د((فاضلی)) د دفاع لپاره له جېله تر پوهنتونه په زولنو کې اجازه ورکړشوې وه. په دغو نورو ژبو یې مرکې او ویناوې کولې، خو شاعري او لیکوالي یې یوازې په خپله مورنی ژبه.

اروابناد اجمل خټک له دې سره سره د صنوبرکاکاجي په پلیونی داوسني پښتو شعر د یوه مخکښ، ژمن او انقلابي شاعر او لیکوال په توګه د شعر وادب لمن د ژوند تر وروستی سلګی پرې نه ښووه. په دې لړ کې یې یو ګڼ شمېر ادبي لیکنې او شعري ټولګې په پېښوراوکابل کې څو څو ځله پرچاپ ورسېدې او د لرو بر ځوان کهول لپاره یې مخبېلګه کړې.

دغه انقلابي شاعر او سیاستوال وړمه ورځ له پېنځه اتیاکلن ویاړلي ژوند سره د تل لپاره مخه ښه وکړه او پرون په خپل کلي اکوړه خټک کې یې د خپل ورنیکه تر څنګه خاورین څادر پر مخ راخپور کړ.

د اجمل خټک اروادې ښاده وي او یاد یې تلتاند و تلپاتې!